ولي الله ملکزی ۲۰۲۶ / ۰۵ / ۰۴

# دودیزې مذهبي ټولنې او د ځوانانو پر وړاندې ننګونې

ځوانان او پېغلې په هرې ټولنې کې د بې بريده ظرفيتونو په درلودلو سره د راتلونکي استازي دي. له همدې بابته دوئ د بدلون، نوښت او پرمختګ اصلي لوبغاړي او له ستونزو سره د مقابلې لومړنی مورچلې دي. بشري ټولنې د بېلا بېلو عمرونو، فکرونو او کلتوري ارزښتونو مجموعي دي او ځوانان يې تر ټولو مهمه بشري پانګه ده. ځکه ځوانان انرژي لري، خلاقيت لري او د بدلون په ازغني لياري، نوي نظريات په چټکی سره مني او زاړه دودونه ننګوي.
د ۲۰۲۵م کال د دوو احصائيو او سروې ګانو له مخې، د افغانستان د ۴۳ میلیونه اټکلي نفوس د ۶۶٪ وګړو عمرونه له ۳۰ کلونو ښځه کم او د نرې د ځوانو هېوادونو په اول کتار کې ځای لري. د ځوانانو دا لوی اکثريت د ټولنيز سم سمکي، مذهبي زغم، اقتصادي ودې او سياسي ثبات لپاره ډېر مهم عنصر دی. د افغانستان راتلونکي تر ډېره ځايه د همدې ځوانانو له هڅو، پوهې او مشارکت سره تړلی ده. ځواني د انسان د ژوند هغه پړاو دی چې په هغه کې فرد نه يوازې د خپل هويت د جوړولو په لټون پسې متې رانغاړي؛ بلکې فکري خپلواکي يې وده کوي، انتقادي فکر يې پراخېږي او د خپل ليد په چوکاټ کې د ارزښتونو بيا ارزونه کوي.
مدني قوانين، ولسي دودونه او اخلاقي ارزښتونه د مذهبي او عنعنوي ټولنو د مقدساتو انعکاس دی او د ټولنې د ټولو وګړو ګډ ميراث بلل کېږي. د تېرې پېړی فرانسوی ټولنپوه، اميل درکهايم چې د ګڼ شمېر کتابونو ليکوال او څېړونکی دی وايي: « دودیزې مذهبي ټولنې هغه ټولنيز جوړښتونه دي چې ارزښتونه، نورمونه او چلندونه يې د ديني عقايدو او تاريخي دودونو پر بنسټ ولاړ وي». د ده له نظره، مذهب د ټولنې د يووالي او انسجام بنسټيز اصل دی او په دې ډول ټولنو کې ټولنيز کنټرول قوي وي؛ عنعنات مهم رول لري او د فرد پر ځای، ټوليز هويت ته لومړيتوب ورکول کېږي.
ډېر کله، په دوديزو مذهبي ټولنو کې د ځوانانو او واکمنانو ترمنځ، د عصريت او کلاسيکو ارزښتونو له امله، خپلمنځي لاري جلا کېږي او حتی د تشدد تر پولې رسيږي. ځکه د دغسې ټولنو مشران له خپلې ځواني طبقي ښځه د وچ کلک تقليد غوښتنه کوي چې ګواکې د دوئ خبره د کاڼی کرښه ده؛ خو ځوانان بدلون غواړي او په پټو سترګو منزل ته له مزل ښځه ډډه کوي؛ نو طبيعي ده چې ټکر راځي. په کومو ټولنو کې چې مذهب د کلتور، سياست او ورځني ژوند اساسي برخه وي، هلته عصريت پلوي ځوانان له ځانګړو ننګونو سره مخ کېږي. د بېلګې په توګه د مذهب سره مخالفت، له دين ښځه په بغاوت تعبيريږي، په داسې حال کې چې دين د الله تعالی له لوري دی او مذهب انساني اجتهاد او تخليق دی.
د يو کوټلي حقيقت په توګه بايد ومنو چې مذهبي ارزښتونه، کليوال رواجونه او قبيلوي دودونه د ځوانانو پرهويت، نوښت، فکر او ورځني ژوند باندې ژور اغېز کوي او ډېر کله د تعادل، زغم او پوهاوي په وړاندې خنډونه رامنځته کوي.
کله چې يوه ټولنه د مذهب په ځُم کې رنګ شوي وي؛ نو ځوانان يې د ارزښتونو تر اغېز لاندې وده کوي؛ خو بيا هم کولای شي د مثبت بدلون او رغون عامل شي. واکمنه طبقه دې هم هرو مرو په پام کې ونيسي چې مذهب د ځوانانو د فردي او ټولنيز هويت مهمه برخه جوړوي او هغوی خپل ځان د ديني ارزښتونو له مخې تعريفوي. دوهمه دا چې ديني لاربښوونې د ښه او بد ترمنځ د توپير کولو معيار دی او د ځوانانو د اخلاقو او چلند په جوړولو کې مرسته کوي. درېم ټکی دا دی چې مشترک مذهبي ارزښتونه د ټولنې ترمنځ يووالی او همغږي زياتوي او ځلورمه خبره دا ده چې په ځينو مواردو کې سخت دوديز تعبيرونه د ځوانانو د فکر او ازادی مخه نيسي. نو په کار ده چې مذهبي مشران بايد هغه جدي وګني او د اعتدال رسی دی نه پرې کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

له بله پلوه، نړیوالتوب (Globalization) د معلوماتو، کلتورونو او د نظریاتو تبادله ګړندۍ کړېده چې له برکته یې ځوانان له نوو فکرونو سره بلدېږي خو کله ناکله له دودیزو معیارونو سره په بربنډې شخړې کې پرېوځي. ټکنالوژي او ټولنیزې رسنۍ د ځوانانو د فکر په جوړولو کې مهم رول لوبوي او رواجي سرحدونه ننګوي. دوه نور مهم فکتورونه مهاجرتونه او بهرني یرغلونه دي. څه وخت چې یو ځوان یا پېغله له خپل کلي څخه ښار ته، یا له خپل هېواد څخه بل ته کډه کوي، نو کلتوري ټکانونه، نوې چاپېریال او د موډرنې نړۍ ترمنځ تضادونه یې د ذهن تابلو ته نوې رنګونه ورشیندي.
ګڼ شمېر نورې ننګونې هم شته چې له امله یې ځوانان کله د افراط خوا ته ځي او کله د تفریط په لمن کې غورځي. لیدل کېږي چې په ځینو وړو او ثانوي مسائلو کې د واکمنې طبقې افراطي چلند ځوانان اړ باسي چې توند لارې او سخت دریځې شي او یا له مذهب سره چورلټه فاصله ونیسي او هرڅه افسانه او اسطوره وګڼي. دغه ډول تفکر د نسلونو ترمنځ واټن زېږوي او د کورنیو د غړو او ټولنې د افرادو دننه، د شخړو او وینو د توئېدو سبب ګرځي. بله دا چې د پوهاوي کمښت او د مذهب سطحي درک، کولای شي د غلطو تعبیرونو سبب شي او ځوانان د عصري زده کړو او دودیزو باورونو ترمنځ په یوې سرساموونکې تشې کې ځان تریږ تم احساس کړي.
د مذهب ژوره، معاصره او متوازنه زده کړه باید ترویج شي، ترڅو افراطیت کم شي. عصري او دیني زده کړې باید یوځای پرمخ ولاړې شي. د خبرو اترو کلتور باید ترویج شي او د نسلونو ترمنځ تفاهم باید وهڅول شي ترڅو یو بل ومني. د زغم او تنوع منل ډېر مهم دي او ځوانان باید د مختلفو نظریاتو درناوی زده کړي. د اغېزمنو دیني او ملي رول ماډلونو معرفي کول هم ډېر وزن لري؛ یعنی هغه شخصیتونه باید زموږ د تعلیمي نصاب برخه وي چې دین او پرمختګ یې په متوازن ډول سره یوځای کړی وي. ټول ګورو چې زموږ د هېواد ځوانه طبقه له ګڼو ستونزو سره مخ ده. بېکاري، رواني او اقتصادي بد حالي، تعلیمي نیمګړتیاوې او د معیاري زده کړو نشتوالی د دوئ د پرمختګ مخه نیسي. نشه اې توکي او روږدیتوب بل هغه ګواښ دي چې زموږ د ټولنې بې شمېره ځوانان ورته د یو زهرجن بدیل په سترګه ګوري.
د یوې علمي حللارې په عنوان، منځلارېتوب (Moderation) د کلاسیک دود او عصریت ترمنځ توازن رامنځته کوي. ځوانان باید خپل انتقادي تفکر ته وده ورکړي، خو د دیني او عصري علومو د یوځای کولو مهارتونه هم زده کړي. دودیزې مذهبي ټولنې او ځوانان دواړه مهم ټولنیز عناصر دي. د دوئ ترمنځ لانجه یو نورمال حالت دی، ولی د علمي مدیریت، پوهاوي او متقابل درناوي له لارې، دا ټکر په فرصت بدلیدای شي.
زه شخصا په ټینګه په دې باور یم چې د مذهب په خم کې د رنګ شوو ټولنو ځوانان، هم د ارزښتونو ساتونکي دي او هم د بدلون استازي. که چېرې دوئ ته سمه لارښوونه، متوازن تعلیم او د فکر آزادي ورکړل شي، دوئ کولای شي یوه داسې ټولنه رامنځته کړي چې هم مذهبي ارزښتونه په کې خوندي وي او هم پرمختګ تضمین شوی وي. تعادل، پوهاوی او زغم د دې بریا بنسټیز عناصر دي.

---

پاملرنه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، کولای شي د ملکزي نورې لیکنې او څېړنې د هغه په فیسبوک او یوټیوب چینل کې ولولي او وګوري. ادرس یې دا دی: Wali Malakzay



د لیکوال نورې لیکنې په دې لینک کې ولولئ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ